Good

پښتانه بني اسرائيل دي. د دې نظريې په رد به تاييد کښې خپل خيالات قلم ته اوسپاري

## د پښتنو د اصل نسل په حقله نظريې :-

د پښتنو د اصل و نسل په حقله ډيرې نظرې مشهورې دي بلکه څوک وائي چې پښتانه بني اسرائيل دي. څوک ئې اريان ګڼي څوک ئې د خلق د نظريه هم لري چې دوی د حضرت ابراهيمؑ نه د بي بي قطورې اولاد دے. په دې لحاظ پښتانه نسلاً بني قطوره دي. د بني اسرائيل او اريان نظريه په کښې ډيرې مشهورې دي. ډير محققين په کښې د بني اسرائيل نظرې سره اتفاق لري. مونږ هم په دې اتفاق کوو چې پښتانه بني اسرائيل دي.

## بني اسرائيل نظريه:

د پښتنو د اصل نسل په باب کښې يوه مشهوره او پخوانۍ نظريه دا ده چې پښتانه بني اسرائيل دي

## مخزن افغاني :-

د انظريه په اول ځل په مخزن افغاني نوم کتاب کښې پيش شوې ده. چې د مغل باچا جهانګير په زمانه کښې نعمت الله خان هروي ليکلے دے

## پښتانه ليکوالان :-

د دے نه پس چې د پښتنو د خپلو ليکوالو له خوا هر څومره تاريخونه ليکلي شوي دي. بلکه په تاريخ مرصع د افضل خان خټک، خلاصه الانساب د حافظ رحمت خان، توزک افغاني "شوکت افغاني" خود رشيد جهان دا سې نور ګڼ شمير ليکوالو د دغه نظريه د ځه څنګه تقليد نه مشتره

ګڼلي دي - دده نه علاوه د شلمي صديقي
په څېړنه ډېره سید عبد الجبار شاه ستانوی
هم یوه رساله د "بني اسرائیل یا علات افاغنه"
په نوم لیکلې ده، د بني اسرائیل نظرېې
مرسته يې کړې شوې ده. په مستشرقین
کښي **سر ولیم** او فیجر د فاورتي هم د دې
نظرېې مرسته کړې ده **دکتاب حواله**
(**پښتانه د تاریخ په رڼا کښې**
سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل)

## د بني اسرائیل نظرېې وضاحت :-

د هغو افغاني او د دې
قسم نورو لیکوالو په قول د پښتنو هم قبیلې
اعلی ساول اسرائیلي دي - دا سړی د حضرت
یعقوب په دولسو ځامنو کښي د بن یمین په
اولاد کښي دا شي - دا مو ذخین وائي چې ساول
د حضرت شموئیل د پیغمبر په زمانه کښې
د بني اسرائیلو په د دخواست د دعوی بادشاه
مقرر شو او بیا د حضرت شموئیل په هدایت
د عمالقه قام جنګ ته روان شو. د عمالقه
قام بادشاه جالوت نومېده چه د خپل جسماني
زور او طاقت په وجه چا هم مقابله نه
شو کولی. جالوت چې میدان ته راووت
نو د هغه مقابلې ته د بني اسرائیلو له خوا څوک
نه وتل. اخر طالوت په قبیل هونه کښي
داعلان او کړو - چې کوم شخص د جالوت
سر پرېکړي او ماله راوړي نو خپله لور به
ورته په نکاح کوم او د بادشاهۍ نه
کار وبار کښي به ئې ځان سره شریکوم. نو
د غه وخت داؤد د جالوت مقابلې ته روان
شو او سر ئې تر بدن پرېکړو. د وعدې
مطابق طالوت خپله لور داؤد ته واده کړه
او د بادشاهۍ په کار وبار کښي ئې شریک کړو

د طالوت د وفات نه پس د هغه د دوو ښځو يو يو ځوئ او شو. د يو نامه ارميا او د بل د برخيا نامه وه. برخيا بيا د داود ع وزير اعظم او د وميه ئې سالار مقرر شو. د دوی دواړو هم بيا يو يو زوی وو، آصف د برخيا زوی او افغانا د ارميا زوی نوم وو. د داود ع د وفات نه پس حضرت سليمان ع آصف او افغانا ځان سره وزير اعظم او سپه سالار مقرر کړل. بيا د آصف اتلس (18) ځامن وو او د افغانا څلويښت ۴۰. او د دوی اولاد دومره چېر شو د حضرت سليمان ع د وفات په وخت د دې دواړو قبيلو هومره په ټول بني اسرائيل کښې نه وه.

## د بني اسرائيلو او بن افغان هجرت:-

د دغه مؤرخين وائي چې د حضرت سليمان ع د وفات نه پس بني اسرائيلو د خدائ نافرماني اختيار کړه. او د ګناهونو نه او سرکشي ئې شروع کړې. لو د دې وجې الله پاک په دوئ باندې د بابل باچا بخت نصر مسلط کړو. بخت نصر په يروشلم حمله او کړه او څه برخې اسرائيل ئې قتل کړو او څنې قبيلې حجاز ته او تښتيدې. د دوی کومې قبيلې چې حجاز ته تښتيدلې وې. هغوی د مکې شريفې په څوا او شا کښې اباد شوې او د يو خدائ عبادت ئې شروع کړې وو.

## سردار قيس (عبدالرشيد)

حضرت سليمان ع د وفات نه پنځلس کاله پس د حضور اکرم ص ظهور او شو. او د حضور ص د هجرت نه اته کاله پس حضرت خالد رض ابن وليد چه لوئ صحابي د بني اسرائيلو د قوم يو لوئ سردار او د خالد د افغانانو نسله وو. د عرب بني اسرائيلو نه يو خط او ليکلو چې په هغې کښې ئې د حضور صلی الله عليه وسلم د نبوت او د

ظهور خبره د کړې وه - ده د پیغام په جواب کښې
د کوډ بنی اسرائیلو د خپل مشر سردار قیس په مشرکه
کښې مدینې ته یوه جرګه اولیږله - دې جرګې په
حضور اکرمؐ ایمان راوړو - حضورؐ دې ته خیر دعا
او کړه - او د قیس نوم ئې بدل کړو او عبدالرشید
ئې کېښود - قیس سره د خپلو ملګرو د فتحې په غزوه
کښې هم شامل وو - او خیر هم ئې ښکاره کړې
ده حضورؐ عبدالرشید ته د ملک او بطان خطاب ونه
ورکړل - او وئې فرمائیل چه دے به ځما دین
بطان وی - بطان لفظ د شام د خلقو په ژبه
کښې سیګلونې ته وئیلې شي - لو د دے مطلب دا
وو چه دے به د خپلو خلقو سیګا ون وی - د دغه
لفظ بطان بیا وروستو د هغوی خلقو له خوا
پټهان شو - حضرت خالد خپله لور ساره بی بی هم
عبدالرشید ته په نکاح ورکړه - له فتحې ئې
قیس سره د خپلو ملګرو خپلې علاقې ته واپس راغې
د ده د دے ځامن وو - سربن، غور غشت او
بیټن - دا د دے وارو سړی د موجود پښتنو اکثر
قبائلو مورثان اعلیٰ دی - د دې بحث نه ثابته
شوه چې پښتانه بنی اسرائیل دي